**د ویلو وروسته وکتل شي**

**د مریم صافي وینا**
**د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا**
**غونډه**
**د ۲۰۲۲ کال د مارچ ۲مه نېټه**

اغلي مشرې، جلالتمآبانو

له تاسو نه مننه کوم، چې ما ته مو وخت راکړ ترڅو د افغانستان د وضعیت په اړه خبرې وکړم. زه مریم صافی افغان الاصله کاناډایی یم، چې په افغانستان کې د څېړنې او سولې جوړونې برخه کې ۱۵ کلنه تجربه لرم.

مخکې له دې چې نن خپله وینا پیل کړم، غواړم د اوکراین له خلکو سره خواخوږي بیان کړم – موږ افغانان لسیزو جګړو ځپلي یوو او ستاسو درد احساسوو او زه ستاسو عزم او همت ته سلام کوم.

نن مې له ځان سره د افغانستان یوه برخه یانې هغه خاوره راوړې، چې د خپل لومړني سفر پر مهال مې په ۲۰۰۷ کې را اخېستې وه او تراوسه را سره ده. هره ذره یې را ته افغان ښځه، نارینه او ماشوم او د هغوې مېړانه، هیلې او سربښندنې را په زړه کوي. تاسو ته دا خاوره د ټلوېزیوني انځورونو یا په یوه پاڼه کې د شمېرو نه ډېر څه دریادولی شي. تراوسه پورې په لسګونو زره افغانان وژل شوي او د هزاره ګانو او نورو ټوکمونو په وړاندې زور زیاتی روان دی، یو میلیون ماشومان د خوارځواکی له ګواښ سره مخ دي، ۲۴ میلیونه کسان بشري مرستو ته اړتیا لري، او د اګست له ۱۵ مې را په دېخوا، په لسګونو معترضې ښځې، د مدني ټولنې فعالان او خبریالان بندیان شوي، ورک یا وژل شوي دي. په دې خونه کې ستاسو پرېکړې د نږدې ۴۰ میلونه کسانو پر ژوند اغېز ښندي.

نن به زما خبرې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سیاسي استازولۍ (یوناما) پر نوي ماموریت، بشري ناورین او د افغانستان لپاره د راتلونکي سیاسي تګلارې پر لومړیتوبونو را وڅرخي.

د اګست ۱۵ مې نېټې را په دېخوا، نړیوالې ټولنې د افغانستان خلکو د ملاتړ لپاره یو شمېر مثبت ګامونه پورته کړي دي. د ملګرو ملتونو سازمان د اوسني دور د سترو بشري مرستو د همغږۍ چارې پرمخ بیايي. د امنیت شورا د افغانستان د بندېزونو د کمېټې ملاتړ لپاره د نظارت ټیم ماموریت تمدید کړ او عمومي اسامبلی په ملګرو ملتونو کې د افغانستان استازیتوب لپاره د طالبانو د غوښتنې په اړه د غور کولو پرېکړه وځنډوله.

لا هم باید ډېر څه ترسره شي. لکه څنګه چې د ملګرو ملتونو عمومي منشي ګوتریش تازه ویلي، چې افغانستان له سخت ګواښوونکې حالت سره مخ دی. غواړم زیاته کړم، چې همدا د ملګرو ملتونو، د امنیت شورا او د نړیوالې ټولنې له اعتبار سره ښایي. په تېرو دوو لسیزو کې د افغانستان د سولې رامنځته کولو پروسې د لاسوهنو سره مل، د بهر په مشرۍ، د پورته نه ښکته او ټکنوکرات محوره وې. افغانستان د نورو ځواکمونو هېوادونو د موخو لپاره وکارول شو. افغانستان کې د نړیوالې ټولنې تګلاره محدوده وه او نه یوازې دا چې د افغانانو څخه یې د خپل برخلیک ټاکلو په برخه کې ملاتړ و نه‌شو کولی، بلکې سیمه ییزه خپلواکي یې هم کمزوره کړه؛ نو ځکه نن د داسې وضعیت سره لاس او ګریوان یوو.

د اګست میاشتې را په دیخوا، ینځو افغانو ښځو د امنیت شورا ته وینا لرلې او له تاسو یې غوښتې، چې د بشر حقونو او ټول شموله حکومتولۍ برخه کې ټینګ ودرېږي او تاسو ته یې دغه راز د نه درېدلو د پایلو په اړه هم خبرداری درکړی دی.

نن تاسو د یو داسې پرېکړې توان لرئ، چې له مخې به یې د افغانستان خلک، سیمه او نړۍ له دې وضعیت نه را ووځي او د جګړې او تاوتریخوالي دور به پای ومومي ؛ خو همدا اوس باید لاس پکار شئ.

**د یوناما ماموریت**

لکه څنګه چې دغه شورا هم ښه خبره ده د طالبانو د واکمنېدو راهیسې د ښځو حقونه ورځ تر بلې د خرابېدو په حال کې دي. تاسو د بېلابېلو افغان ښځو او د ملګرو ملتونو سازمان له خوا د ښځو د تګ راتګ، جامو ، زده کړو او کار پر وړاندې د محدودیتونو په اړه اورېدلي دي. که څه هم طالبانو د یو شمېر محدویتونو د لیرې کولو خبره کړې؛ خو لا هم دغو ژمنو د عمل جامه نه‌ده اغوستې.

عدالت ته د ښځو لاسرسی د یو خپلواکه او فعاله قضایي سیستم د نشتون له امله په جدي توګه محدود شوی دی. د بیان آزادي او مدني غږ په بشپړه توګه ټپ شوی دی. نږدې ۷۰ سلنه رسنۍ تړل شوي دي او ۷۲ سلنه ښځینه خبریالانو خپلې دندې له لاسه ورکړي دي.

داسي معلومیږي، چې افغانستان کې د ښځو پر حقونو فشار د طالبانو د لید اساسي برخه برابروي. د همدې لپاره افغان میرمنې د خپل ژوند په خطر کې اچولو سره سره، د هېواد په ګوټ ګوټ کې خپلو لاریونونو ته دوام ورکوي. دا هغه سیمه ییز را ټوکېدلي خوځښتونه دي، چې د طالبانو د سیستماتیک زور زیاتی، بندي کېدو او ان په زور د ناسمو اعترافاتو اخېستو سربېره هم، مبارزه کوي. دا اوس چې خبرې کوو، طالبان په کابل کې کورونه او دفترونه پلټي او د عامو خلکو ترمنځ وېره خپروي. د ډار او وېرې دغه کمپاین باید نړیوالې ټولنې او په ځانګړې توګه هغو کسانو ته چې طالبانو سره د ښکېلېدلو غوښتوونکي دي، خبرداری ورکړي چې د طالبانو پر خبرو نه ، بلکې د هغوی پر کړنو قضاوت وکړي. د شرطونو نه اېښودو پرته ښکېلتیا ستونزمنوونکي ښکاري.

طالبان غواړي چې د خپلو منتقدینو خوله چپ کړي. د نړیوالې ټولنې په توګه باید ورته په داګه ووایو، چې دا هر څه له نږدې څارو. د همدې لپاره لازمه ده، چې د بشري حقونو د څار او ریپورټ ورکولو او د افغانستان د نړیوالو مکلفیتونو پلي کولو ملاتړ برخه کې یوناما پیاوړی ماموریت ولري. افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه ځانګړی ریپوټر ورکوونکي که څه هم ډېر اړین دی؛ خو نهشي کولای چې د یوناما او دغه راز د هغو ځایي بنسټونو ځای ونیسي چې د اګست نه مخکې رامنځته شوي دي. د رسنیو او مدني ټولنې د خپلواک فعالیت او د نړیوالې ټولنې له جدي څار پرته، د طالبانو سرغړونې او ژمنې د څارولو وړ نهدي. د همدې لپاره باید یوناما د پراخ لاسرسي لپاره سرچینې او ظرفیت ولري او د هغو سیمه ییزو بنسټونو ملاتړ وکړي چې د بشر حقونو برخه کې کار کوي.

تر ټولو مهمه دا چې امنیت شورا باید ځان یقیني کړي، چې یوناما د ښځو د حقونو او د نارینه او ښځینه برابرۍ او د هغوې د خوندیتوب او مشارکت دواړو برخو ته لومړیتوب ورکوي. تر هغې چې په یو هېواد کې د ښځو د عامه او سیاسي مشارکت لپاره کار و نهشي، د دې حقونو د خوندیتوب لپاره به هیڅوک بریالی نهشي. له همدې لپاره، د امنیت شورا څخه غواړم، چې د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره ټینګه ژمنه ولري، چې یوناما په ټولو پروسو کې د ښځو د بشپړ، خوندي، برابر او معناداره ګډون او رهبرۍ ملاتړ برخه کې ښکاره ماموریت ولري او په منظمه توګه د ښځو، مدني ټولنې فعالانو، نورو جنسیتونو، ځوانانو، قربانیانو او ټولو قومي او مذهبي ډلو سره سلا مشورې وکړي.

**بشري مرستې**

دمګړۍ، نږدې ۶۰ سلنه افغانان بشري مرستو ته اړتیا لري او د اټکل له مخې ۴،۴ میلیارده دالرو ته اړتیا لیدل کیږي. د افغان ښځو په مشرۍ سازمانو غوښتنه کړې، چې د دغو پیسو لږ تر لږه 40 سلنه ښځو، نجونو او د ښځو په مشرۍ کورنیو ته ځانګړې شي او د سیمه ییزو بشري سازمانونو په تمویل کې هم د پام وړ زیاتوالی راشي. سربېره پر دې، د بشري مرستو په رسولو کې د ښځو ګډون اړین دی. بشري مرستې باید د افغانستان مدني ټولنې په ملګرتیا ترسره شي او که سرچینې واک کې ورکړل شي، ملاتړ ته چمتو دي .اوس یې وخت را رسېدلی، چې نړیوالې ټولنه د داسې پروسو مالکیت او مشري افغانانو ته وسپاري.

که څه هم بشري مرستې اړینې دي؛ خو بسنه نهکوي او د پیاوړي ملي اقتصاد ځای نهشي نیولی. پراختیایي مرستې د بانکي نظام د سقوط مخنیوي او د عامو افغانانو او سیمه ییزو بنسټونو د اړتیا وړ سرچینو ته د لاسرسي لپاره مهم بلل کیږي.

جلالتمابونو، اجازه راکړئ ښکاره ووایم: د افغانستان د ۷ ملیارده ګنګل شویو پیسو وېش او د افغانستان خلکو ته یې د نه سپارولو په اړه د متحده ایالاتونو وروستۍ پرېکړه له غلا کمه نه بولم. دغه شتمني د افغانستان د خلکو ده او باید هغوی ته بېرته وسپارل شي. د طالبانو د ګټې اخیستې د مخنیوي لپاره باید دغه پیسې په تدریجي ډول مرکزي بانک ته ولیږدول شي او خپلواکه پاتې شي او د یو بې پرې او تخنیکي ټیم له لورې اداره شي. سربېره پر دې، طالبان د واکمنېدو وروسته ډېر عواید راټول کړي؛ خو بیا هم ملکي مامورینو ته په منظمه توګه تنخوا نهورکوي. دغه عواید چېرې ځي؟ د دې پیسو لګولو څرنګوالي او دغه راز هېواد ته د نورو اضافي پیسو راتګ برخه کې رونټیا ته اړتیا لیدل کیږي.

**راتلونکي سیاسي لار**

په دې سره خپل وروستي ټکي ته راځم.

شپږ میاشتې پوره کېږي؛ خو تراوسه طالبانو نه خپل راتلونکی سیاسي لیدلوری څرګند کړی او نه یې د امنیت په اړه خپلې ژمنې پوره کړي. برعکس یې طالبانو د حقاني شبکې او القاعدې له لارې د بهرنیو ترهګرو جنګیالو سره نږدې اړیکې ساتلې دي، حال دا چې د داعش خراسان ډلې په هېواد کې خپل نفوذ پراخ کړی دی او طالبانو په خپل دفاعي ځواکونو کې د ځانمرګو بریدګرو کنډکونه ځای پرځای کړي دي.

اغلې مشرې، د واک په لاس کې نیول د حکومت کولو وړتیا غواړي او دا کار باید مسوولانه ترسره شي. یانې چا ته چې خدمت کوو، هغوی ته مسوول هم و اوسو. او د نظر اختلاف د منلو زغم هم ولرو. همدا یوازنی لار ده، بله دوهمه لار نه‌شته.

طالبان اسلامي امارت غواړي، داسې نظام چې واک د شورا لخوا ټاکل شوي مشر ته سپارل کېږي، حال دا چې افغانانو په تېرو ۲۰ کلونو کې ولسواکي تجربه کړې، چېرې چې ولس د ټاکنو له لارې خپل مشران ټاکل.

افغانان باید په خپلواکه توګه د خپل نظر د بیانولو وسیله ولري او په هر راز راتلونکي حکومت کې باید د ټولو هغو استازیتوب وشي. نړیواله ټولنه د افغانانو او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو او دغه راز د دې موخو ترلاسه کولو د څار برخه کې رغنده رول لوبولی شي. خو د دې کار لپاره باید تاسو یوه خوله شئ او د بشځو حقونو، رسنیو آزادۍ، ټول شموله حکومتولۍ په ګډون د نارینه، ښځو، ځوانانو، مدني ټولنې، قربانیانو،ډول ډول جنسیتونو، افرادو او ټولو قومي او مذهبي ډلو د برابر مشارکت تضمین په څېر اساسي مسایلو لپاره ټاکلي اهداف وټاکي، چې بیا یې د یوناما ماموریت له خوا ملاتړ او نظارت وشي. نړیواله ټولنه کولی شي، چې یادو موخو ته د نه‌رسېدو په صورت کې خپل ملاتړ ودروي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سر منشي ځانګړي استازي د امنیت شورا ته تازه ویلي، چې « د افغانانو ملاتړ دوام لپاره د ملګرو ملتونو سازمان د ښه موقف څخه برخمن دی.» اغلې مشرې، د شورا غړو، زه هم په دې باور یم؛ خو د ملګرو ملتونو سازمان یوازې هغه وخت د دې کار ترسراوي لپاره ښه موقف کې پاتې کېدلی شي، چې د خپلو ارزښتونو د ساتلو جرأت او وړتیا ولري – سوله دود کړي او د ښځو په ګډون د ټولو افغانانو د بشري حقونو ساتلو ته پام وکړي – حتا که ستونزمنه هم وي. د ملګرو ملتونو سازمان یوازې هغه وخت دا کار کولی شي، چې تاسو د امنیت شورا ورته غوښ ماموریت وسپارئ او ترې ملاتړ وکړئ.

د کلونو راهیسې ما دغه خاوره ساتلې چې را ته د خپل کار پیل را یادوي. که څه هم چې ډېر څه بدل شوي؛ اما دا خاوره د افغانانو د ارادې په څېر پخپل حالت پاتې ده. زما افغان وطنوالو پرېږدئ، چې دا خاوره زموږ د استقامت نښه او د زموږ د هیلو رڼانده بیرغ شي.

مننه